# د اقتصاد وزارت د تلپاتې اقتصادي ودې د يو څو طرحو شرحه

یونس تنویر

اقتصاد وزات په دې وروستيو کې پانګې اچونې ته ډېره لار هواره کړې ده. تر دې پخوا د پانګې اچونې لپاره د مناسبو شرايطو نشتوالی، اداري فساد، د بنسټيزو جوړښتونو د حمايې کمزوري، په ځانګړې توګه سره د خدماتو وړاندې کول او د پېر او پلور کورنيو محصولاتو ته نه توجو؛ هغه عوامل و، چې هيواد يې په اقتصادي لحاظ ډېر ځپلی دی.

د افغانستان د سولې او پرمختيا دوهم سند د ژمنو له مخې او د اقتصاد وزارت د رهبری د چوپړ له مخې دا مهال افغانستان د کورنی پانګې اچونې په يو ښه پړاو کې دی. او اړتيا ده، چې دغه زمينه سازي نوره هم پراخه شي.

د اقتصادي ليد لوري له مخې د توليد عوامل پانګه ده. کله چې په يوه هيواد کې واړه توليدي عوامل پيدا شي او بيا دغه واړه توليدي عوامل په لويو پانګو بدلېږي او لويې منابع منځته ترې راځي.

اقتصاد وزارت هوډ لري، چې واړه متشبثين وروځي او په ځان بسيا اقتصادي وده رامنځته کړي. خپل توليدي عوامل پياوړي کړي او زمينه سازي ورته وکړي. وګړي به د ننه په هيواد کې اقتصادي چارې ولري او اړ به نه وي، چې نورو هيوادو ته په قاچاقي لارو لاړ شي او مزدوري وکړي. اقتصاد وزارت او د حکومت رهبري د دوی د اقتصادي ودې لپاره په بېلابېلو لارو هڅې پيل کړې.

د اوبو مهار او اوبه په منابعو ودرول په اقتصادي وده کې يو ستر عوامل دی. حکومت د خپلې ژمنتيا لپاره د اوبو د مهارولو کوښښونه په سلو کې نوي فيصده بريالي روان کړي دي.

افغانستان د ګنو کاونډيو هيوادونو څخه شمېرل کيږي، چې په سيمه کې د زياتو اوبو درلودو له مخې يې کاونډ هيوادونه غني کړي دي. او خپله يې ددغو اوبو مهار نه دی کړی.

اوبه په اقتصادي وده کې د منابعو يو ستر نوعيت دی. حکومت د خپلې ژمنتيا له مخې د اوبو د مهارولو زياتې هڅې شروع دي. څه موده وړاندې ۷۰ سلنه اوبه کاونډيو هيوادونو ته وړيا او بغير له کوم احسان روانې وې. هغوی خپل هيوادونه پرې بريښناييز او منابع درلودونکي کړل.

خوشبختانه د اوسني حکومت له ژمنو دا ثابته شوه، چې اوبه زموږ ابرو ده، او ابرو وړيا نه ويشل کيږي. له بل پلوه کرنيزې ، صنعتي اړتياوې ددې باعثې شوې، چې اوبه په هيواد کې د يوې لويې ابي منابع حيثيت خپل کړي. او په اقتصادي وده اغيز وکړي.

د راپورونو په اساس د افغانستان د اوبو ذخيرې ۷۵ ميلياردہ متر مکعب دي. د اوبو او انرژي وزارت موندني ښيي، چې ددغو ۷۵ اوبو سلنې څخه يي ۷۰ سلنه اوبه کاونديو هيوادونو، بلخصوصو ايران او پاکستان ته رواني دي. نو ددغو اوبو مهار سره واړه توليدي عوامل په لويو بدلېږي او لوې اقتصادي بسياينې رامنځته کوي.

افغانستان د يوه زراعتي هيواد په توګه په سيمه کې پيژندل شوی دی. د USAID د امارو له مخې ۸۰ سلنه وګړي يې په زراعت او مالداری بوخت دي. اقتصاد وزارت په خپلې پنځه کلنې ستراييژی کې د دا ډول محصول لپاره د مارکيټ د تيارولو يوه ښه طرحه لري، چې ددې په بنا کولای شي، کورني توکي او محصول نړيوال بازار ته لاره پيدا کړي.

د هيواد د اقتصاد وزيرې ډاکټر کريمه حامد فاريابي زراعت د اقتصادي پراختيا يو لوی لامل ګڼي. او ددې لپاره د مارکيټ جوړوني طرحه او کورني بنسټونو سره همکاري ډېره اړينه بولي، څو وکولای شو هيواد په خپل اقتصادي نوعيت ودريږي. د اقتصاد وزيرې په دې وروستيو کې په پانګه اچونې باندې ډېر ټينګار کوي. او دا د اقتصادي غنامندی لپاره يوه اړينه لاره ده، چې وګړي له فقر او بې کارۍ ژغوري.

اقتصاد وزارت د عامه خدماتو د سهل لپاره د غوايي په مياشت کې د مرکزي او ولايتي بريښنايي راپور ورکووني د څارني سيستم فعال کړ. د دې سيستم د رامنځته کولو موخه په هيواد کې د پراختيايي پروژو د

پلانونو او د تطبیق د پروسې څخه څارنه او راپور ورکول دي؛ ترڅو د روڼتیا، حساب ورکوونې او د پراختیایي پلانونو او پروژو په وخت او په ګټور ډول د پلي کیدو چټک ډاډ تر لاسه شي.
دا مهال په یاد سیستم کې د ۲۳۰۰ پروژو پرمختګ په اړه معلومات خوندي شوي دي. دا سیستم د هیواد د وګړو لاسرسی اسانه کوي، چې څنګه پراختیایی پروژې پلې او پراختیا ومومي او دوی ته دا وړتیا ورکوي، چې ځایي اړتیاوې وپیژني او لومړیتوبونه درک کړي، ترڅو په نږدې سیمو کې پرمختیایي پلان جوړولو ته وده ورکړي.
دا مهال دا سیستم د افغانستان (کابل، بلخ، هرات، کندهار، پروان، لغمان، کنړ، فراه، میدان وردګ، ننګرهار فاریاب، غور او غزني) ولایتونو کې فعال دی او ټاکل شوې، چې د روان کال د غبرګولي میاشتې په جریان کې د هیواد نورو ولایتونو ته هم وغځېږي.
د دې سیستم له رامنځته کیدو دمخه د پراختیایي پروژو د پرمختګ او تطبیق کولو په اړه د معلوماتو راټولو او راپور وړاندې کول، یو ډول پیچلي، ناباوره، فاسد، او په ځینو مواردو کې غیر واقعي، وخت ضایع کوونکي وو.
د هیواد د اقتصاد وزیرې هڅه د فقر په ورکولو کې د دولتي او غیر دولتي بنسټونو د پانګې اچونې څخه ډاډ تر لاسه کول دي او په هیواد کې د غیر دولتي موسساتو د انسجام او هماهنګې په برخه کې په ګډ کار کولو ټینګار ته زیاته توجو کوي.
ډاکټر کریمه حامد فاریابي په هیواد کې د اقتصادي موډل(سبک) په ترتیب او جوړښت باندې بوخته ده، تر څو هیواد په اقتصادي موخو ولاړ او متکي شي. په ولایتي سطحه په یوه ولایت کې د یوه تولیدي محصول ، چې په نوموړي ولایت کې د معشت او مزیت سبب جوړ شوی دي. او په همدغه محصول باندې پانګونه په هم هغه ولایت کې، چې د بېوزلۍ مخه نیسي او وګړي یې ورځنۍ عاید ځینې لاسته راوړي، نو په دې لحاظ په نوموړي ولایت کې د فقر سطحه راټیټیږي.
اخځلیکونه:
۱ – پوهې مجله (د ننګرهار پوهنتون درې میاشتنې خپرونه ۱۳۹۶، دوهمه ګڼه، د وړې پرله پسې ۶۳) د افغانستان څخه د پانګې د فرار عوامل او پر اقتصاد یې اغیزه. پوهنیار عنایت الله حبیبي، مخ: ۱۵۶.
۲ – دهکده مجله( ارکان نشراتی وزارت احیا و انکشاف دهات ۱۳۹۷ ، شمار نود و چهارم) رابطه میان اب ږ توسعه اقتصادي، رضا فرزام، مخ:۸.
۳ -د اقتصاد وزارت ویب پاڼه. د ۱۳۹۹ کالني راپور.
۴ – د اوبو او نرژۍ وزارت ویب پاڼه. رسنۍ.